UNAMA
United Nations Assistance Mission in Afghanistan
Strategic Communication and Spokespersons Unit, Kabul, Afghanistan
بیوگرافی
http://unama.unmissions.org

## د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی دی میستورا ژوند لیک

د ملګرو ملتونو سرمنشی بانکی مون د ۲۰۱۰ کال د جنوری په میاشت کې ستیفن دی میستورا د افغانستان لپاره د خپل ځانګړی استازی په توګه وټاکه. وړاندې تر دې چې ښاغلی دې میستورا په کابل کې د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ۱۳ نېټه خپل اوسنی موقف تر لاسه کړي هغه په روم کې د نړیوال خوراکي پروګرام د اجراییوي مرستیال په حیث دنده ترسره کړې ده.

ستیفن دې میستورا د دې ترمخه په عراق کې د ملګرو ملتونو د سرمنشی د ځانګړی استازی په حیث کار کړی دی . د ښاغلی میستورا د مشرتابه لاندې د هغه د ۱۰۰۰ کسانو ټیم د دې سره مرسته وکړه چې د بریالیو ټاکنو، همدارنګه د بیا رغونې، پرمختیایي او بشردوستانه مرستو د چارو سرپرستي وکړي.

ښاغلی دی میستورا په ملګرو ملتونو کې پخپله دنده په ۱۹۷۱ کې په سوډان کې د نړیوال خوراکي پروګرام د پروژې د افسر په حیث په کار پیل کړ او د کلونو په جریان کې یې هم د خواړو مرستې او د نورو مرستو لړۍ د ایتوپیا، بالکان او روندا لپاره هم سازماندهي کړي دي. د بیړنیو مرستو د افسر په حیث هغه په چاد کې د ملګرو ملتونو د لومړنی هوایي غورځونې عملیات په ۱۹۷۳ کې رهبري کړل. هغه د څوارلسو کلونو لپاره یې د ملګرو ملتونو د خواړو او کرنې په سازمان کې خدمت وکړ او په ۱۹۸۷ کې بیرته د خواړو نړیوال پروګرام ته په سوډان کې د عملیاتو د مشر په توګه راستون شو . هغه همدارنګه په (۱۹۸۹- ۱۹۹۱) کلونو کې د افغانستان لپاره د تمویل او مالی پانګو د پیدا کولو او د ملګرو ملتونو د باندنیو اړیکو د دفتر د همغږي کوونکی په حیث خدمت کړی دی، او دغه شان په یونیسف کې په بیلا بیلو منصبونو باندې د عامه چارو د څانګې د مشر په شمول دنده ترسره کړې ده.

په ملګرو ملتونو کې د خپلې ۳۸ کلن ماموریت په ترځ کې د ښاغلی دې میستورا په منصبونو کې په عراق کې د ملګرو ملتونو د سرمنشی د ځانګړی استازی د مرستیال، د جنوبی لبنان لپاره د سرمنشی د ځانګړی استازی او په روم کې د ملګرو ملتونو د معلوماتو د مرکز د مشر دندې هم شاملې دي . هغه همدارنګه په بوسنیا، کروشیا، کوسووا، صومالیا او تیرانا کې د ندې ترسره کړې دي.

د ایتالیا او سویډن د دوه ګونی تابعیت درلودنکی ښاغلی دی میستورا په ۱۹۴۷ کې په ستهکلم کې زیږیدلی دی. هغه د روم د پوهنتون څخه د سیاسي علومو او پرمختیایي اقتصاد په څانګه کې د علمي درجې په اخیستلو فارغ شوی دی هغه واده کړې او دوه لونې لري.

( ۲۰۱۰ کال د مارچ میاشت )